مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌جان هاجره حرکت

۲۰۲۶/۰۵/۳۰

# د طبیعت په غیږ کې

د طبیعت په غیږ کې شـنـه پـلوشـه وځغلـیـده
د پسرلـي د یـون پیـغام و پـه کې وځـلـیـده

له شنه اسمانـه تـورو وریځـو غیږ چاپیره کړله
بـاران تـوده شیـبه د ځـمـکې مـخ تـه ورسیـده

موسمي ورښت پر طبیعت ژوندون له سره پیل کړ
انـسـان لـه کـړنـو بـیــا دا تـولـه دونـیا ولـړزیـده

د محبت او مینې ځواک د کرکې رنګ کې ورک دی
له مـرګي ویـره د هــر زړه پـه کـور کې وتـلــیـده

چې د هستی پـه ستـولـو کې یـې لاس بـریـږي
دا ککړی د بـنـیــادم لــه نــومـــه ونـړیــــده

د پـر مخـتـک لـوړتـیا یـې اوس ځانـته پیغور ګڼلی
د دوي ذهــنـونــه لا واړه وو نـــړی وغـــمیـده

سهارنی پرخه چې ګل پر نازک مخ پریوتـه
بورا مخوکې تـه شـو زهـر په کې وڅڅیـده

انساني ژوند خټه الله (ج) له خوا د مینې په نـوم
د محبت قانون ته یې شا کړه چې ترې وشړیـده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ